د مالیې وزارت
د ارزاقو دولتي شرکت
سوداګریز مرستیالتوب

# د ۱۴۰۲ کال عملیاتي پلان

# د ارزاقو دولتي شرکت اساسي موخې او خدمات

د ارزاقو دولتي شرکت د نوې اساسنامې لمخې د لاندې اهدافو د لاس‌ته راوړلو په موخه فعالیت کوي:

1. د ګټورتوب، مؤثریت او خوندیتوب اصل ته په کتو د غذایي موادو او نورو ضرورت وړ توکو د را ټولولو، عرضه کولو، ذخیره کولو او خرڅولو د خدماتو تېزوالی او پراخوالی.
2. د ټولنې د اړتیا او د بازار د غوښتنې مطابق په معیاري توګه د غذایي موادو ذخیره کول او عرضه کول.
3. د ملي پراختیا، اقتصادي پیاوړتیا، ټولنیزې رفاه او د دندو د ایجاد په برخه کې د شرکت د برخې اخستلو لپاره زمینه برابرول.
4. په شرکت کې د خصوصي پانګونې د جذبولو لپاره زمینه برابرول.
5. د شرکت لپاره د ګټې را پیدا کول او د شرکت مالي بنیاد تقویه کول.

# د ۱۴۰۲ کال عملیاتي پلان

## د عملیاتي پلان اساسي موخې:

1. د ارزاقو شرکت د املاکي ستونزو حل کول.
2. د عوایدو د لوړولو په موخه د ارزاقو شرکت د املاکو نه تر لوړترین حده ګټنه.
3. د مالي چارو او بشري سرچینو د ښه مدیریت په منظور د معاصرو الکترونیکی سیستمونو پېرل او نصبول.
4. په کابل ښار کې د ځنځیري مغازو ایجادول.
5. د لمړنیو خوراکي توکو تولید، تنظیم او عرضه کول.
6. د لوړو زده کړو وزارت اړوند پوهنتونونو د لیلیو، تخصصاتي مدرسو لیلیو او کادري روغتونونو د خوراکي د قراردادونو اکمال.
7. د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو اړوند پرسونل د حبوباتو د پروژې ترلاسل او اکمالول.
8. د ارزاقو دولتي شرکت اړوند تولیداتي پروژو لپاره د ډونرانو او خصوصي سکتور نه د پانګې را جلبول.
9. نورې پراختیایي برنامې

# اوږدمهالې پرمختیایې برنامې

1. د نباتي غوړیو د تولیدي فابریکې ایجادولو لپاره پلان ترتیبول.
2. د هینګ د تولیدي فابریکې ایجادولو لپاره پلان ترتیبول.
3. د بورې د تولیدي فابریکې جوړولو لپاره پلان ترتیبول.
4. د اوړو د لویو ژرندو د جوړولو لپاره د پلان ترتیبول.
5. د روب د تولیدي فابریکې د جوړولو لپاره پلان ترتیبول.
6. د خصوصي سکتور د میوو او سبزیجاتو د ساتنې په موخه د کابل په دوو ساحو کې د لویو سړو خونو جوړول.
7. د پغمان دوه لارې کې د ارزاقو دولتي شرکت ګدامونو نه د بنې عایداتي منبع جوړولو لپاره د پلان ترتیبول.
8. د طبي نباتاتو د پروسس فابریکې جوړولو لپاره د پلان ترتیبول.

| اجراء کوونکې اداره | اړوند ادارې | همکارې ادارې |
|---|---|---|
| د ارزاقو دولتي شرکت | د شرکت مدیره پلاوی او د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو لوی ریاست | خصوصي سکتور، نړیوالې ملاتړ کوونکې ادارې، مالیې وزارت او دولتي/خصوصي بانکونه |

5

# د مالي امکاناتو (بودجه) په صورت کي په ارزاقو دولتي شرکت کې د پانګونې فرصتونه

**د خدماتو او تولیداتو په برخه کې د پانګونې فرصتونه:**

د ارزاقو دولتي شرکت د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت تر چتر لاندې د دولتي شرکتونو د قانون مطابق، منظور شوي اساسنامې او نافذه قوانینو په رڼا کې خپل سوداګریز فعالیتونه پر مخ وړي. د ارزاقو دولتي شرکت د ستراتیژیک او کلني پلانونو لمخې هغه پروژې او برنامې چې په نظر کې لري تطبیقوي، په دې برنامو او پروژو کې د داخلي او خارجي خصوصي سکتور لپاره د عامه او خصوصي ګډون یا PPP د قانون لمخې او یا هم د اسلامي شراکتداري د اصولو مطابق (لکه وکاله، مضاربه یا مرابحه) د پانګونې فرصتونه موجود دي. دولتي ادارات، خصوصي سکتور داخلي او بهرني پانګه‌وال او یا هم بانکونه کولای شي د ارزاقو دولتي شرکت سره په لاندې پروژو او برنامو کې د مشارکت له لارې په تعین شویو شرایطو پانګونه وکړي:

- ❖ د شرکت په جایدادونو کې د پانګونې فرصتونه
- ❖ په ارتزاقي پروژو کې د پانګونې فرصتونه
- ❖ د سړو خونو جوړولو په برخه کې د پانګونې فرصتونه
- ❖ د ځنځیري مغازو (Chain of Super Stores) په جوړولو کې د پانګونې فرصتونه
- ❖ د روب د تولید فابریکې د جوړولو په برخه کې د پانګونې فرصتونه
- ❖ د نباتي غوړو فابریکې جوړولو لپاره د پانګونې فرصتونه

# د شرکت په جایدادونو کې د پانگونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولایتونو کې د ثابتو او اساسي جایدادونو درلودونکی دی او د هیواد په ۳۰ ولایتونو کې فعالې نمایندگې او کارمندان لري. ۱۸۳ قطعې جایدادونه لکه (ډېرین گدامونه، هنگرونه، گراجونه، تپیک مغازې، دکانونه او سپینې ځمکې) په لاس کې لري او په عامه گډون یا خصوصي ډول د پانگونې لپاره تیار دي، د شرکت ټول جایدادونه خصوصاً په کابل، بلخ، هرات، کندز، ننگرهار، کندهار او د هیواد نورو لویو ښارونو په تجارتي مرکزونو او ډېرو ښو موقعیتونو کې قرار لري، چې د دولتي یا خصوصي پانگونې په وسیله کیدای شي چې په دې جایدادونو سوداگریزې ودانۍ، د اوسیدو ودانۍ، تولیدي فابریکې، سړې خونې او د اجناسو د خرڅلاو سترې مغازې جوړې او گټې اخستنې ته وسپارل شي.

له خصوصی سکتور او یا هم بانکونو سره به د دولتي شرکتونو د قانون، تدارکاتو قانون، د عامه او خصوصي مشارکت قانون، د ځمکنیزو چارو قانون او منظور شوې اساسنامې په رڼا او د دولت چوکاټ کې عادلانه او منصفانه چلند او مشارکت کیږي.

# د ارتزاقي موادو په پروژو کې د پانگوني فرصتونه

لکه څرنگه چې مخکې یې ذکر وشو د ارزاقو دولتي شرکت په (۱۴۰۱) مالي کال کې له لوړو زده‌کړو وزارت نه د پوهنتونونو د لیلیو د خوراکي توکو د اکمال قراردادونه او همدارنگه د کورنیو چارو وزارت اړوند قومندانیو د (۱۵) قلمه حبوباتو قراردادونه تر لاسه او په ډېره ښه توگه تطبیق کړل چې یاد وزارتونه د شرکت له خدماتو سل سلنه رضایت لري.

د ۱۴۰۲ مالي کال لپاره د ارزاقو دولتي شرکت په پام کې لري چې د اسلامي امارت د مقاماتو په مرسته لاندې حجم لرونکي قراردادونه تر لاسه او تطبیق کړي:

- د لوړو زده‌کړو وزارت د پوهنتونونو د اړوند لیلیو د منظور شوي غذایي مینو مطابق د (۳۴) قلمه خوراکي توکو قرارداد چې حجم یې تقریباً یو میلیارد افغانۍ ده.
- د کورنیو چارو وزارت د حبوباتو قرارداد چې حجم یې تقریباً ۴-۵ میلیارد افغانۍ ده.
- د ملي دفاع وزارت د حبوباتو قرارداد چې حجم یې تقریباً ۳.۵-۴ میلیارد افغانۍ ده.
- د عامې روغتیا وزارت اړوند روغتونونو، د پوهنې وزارت اړوند لیلیو، د تخنیکي او مسلکي اداري اړوند لیلیو او د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د غذایي موادو قراردادونه چې ټولټال حجم یې تقریباً ۵۰۰ میلیونه افغانۍ ده.

د ارزاقو دولتي شرکت ژمن دی چې د ارتزاقي موادو په پروژو کې د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د دولتي او خصوصي سکتور

پانگوني ته زمینه برابره کړي او دا د پانگوالو لپاره د خوراکي توکو د توزیع برنامې د پراخوالې په موخه د پانگوني یو ښه فرصت دی.

# د ځنځيري مغازو Chain of Super Stores برنامه کې د پانګونې فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت غواړي چې لمړی په کابل او بیا د هیواد نورو لويو ښارونو کې د خوراکي توکو د پلورلو تیپیک مغازې جوړې او فعاله کړي، د کابل ښار په ۵ برخو کې او لويو ښارونو (کندهار، مزارشریف، هرات او جلال اباد) په سوداګريزو ساحو کې يوه-يوه مغازه جوړه او فعاله کړي چې هغه مغازې به يو ځانګړی ډيزاين لري او خوراکي توکي به تر عام بازار په مناسب نرخ او ښېل تخفيف محترمو ښاريانو باندې پلورل کيږي. په دې پروسه کې د تخفيف او سبسايډي طرحه يې د حکومت په صالحه مقاماتو د لا غني کيدو او منظوري لپاره استول شوي.

د ذکر شويو مغازو د جوړولو طرح او سوداګريز پلان په جريان کې دی، دولتي او خصوصي سکتوورونه او بانکونه کولای شي چې په دې برنامه کې د ارزاقو دولتي شرکت شريک او همکاسي شي.

# د روب جوړولو فابريکه کې د پانگوني فرصتونه

د ارزاقو دولتي شرکت غواړي چې له کروندگرو د روميانو حاصلات را ټول او په معياري ډول او مناسب نرخ د داخلي توليداتو نه گټه تر لاسه او فعاليت وکړي، دولتي او خصوصي سکتورونه کولای شي چې د روب فابريکې جوړولو لپاره د عامه او خصوصي مشارکت قانون مطابق د پانگونې له لارې د تجارت د پرمختگ او کارموندنې په وسيله د هيواد د اقتصادي ثبات او پرمختگ کې د ارزاقو دولتي شرکت سره برخه واخلي.

د روب جوړولو فابريکې طرحه جوړه او ژر به د ذيصلاح مقاماتو د منظورۍ اخستلو وروسته پرانستل شي، هغه دولتي ادارې، خصوصي شرکتونه او بانکونه چې دې برخه کې د کار ظرفيت او تجربه ولري کولی شي د ارازقو دولتي شرکت سره د اسلامي شريعت د اصولو او د هيواد د نافذه قوانينو په رڼا کې گډون وکړي.

# د نباتي غوړیو فابریکې جوړولو کې د پانګونې فرصتونه

افغانستان یو وارداتي هیواد دی او اوسمهال ډېره اړتیا احساسیږي چې چې د لمړنیو خوراکي توکو د تولید برخه کې پرمختګ وکړي، ټولې دولتي اداري مکلفې دي چې د داخلي تولیداتو د ودې په برخه کې کار او خپل مسؤلیت اداء کړي، په دې هکله د ارزاقو دولتي شرکت پلان کې لري چې هیواد کې د نباتي غوړیو د تولید فابریکه جوړه کړي؛ لمړنی طرحه، د بازار سروې او ټولې تخنیکي چارې یې تر سره شوې، همدارنګه د کابل ولایت صنعتي پارکونو کې د یوې قطعې ځمکې د بیلولو لپاره د صنعت او تجارت وزارت سره خبرې رواني دي.

دولتي ادارې، خصوصي شرکتونه او بانکونه کولی شي دې برخه کې له ارزاقو دولتي شرکت سره د مشارکت په ډول فعالیت وکړي.

# د سرو خونو جوړولو برخه کې د پانگونې فرصتونه

د کروندگرو او باغلرونکو د حاصلاتو د ساتنې، د وطني میوو او سبزیو د صادراتو د ودې او د حاصلاتو د خرابیدو او ضایع کیدو د مخنیوي لپاره د سړو خونو جوړول ډېره ستره اړتیا ده، همدارنگه د چرگانو د غوښې او هگیو کاروباریان هم د سړو خونو نه گټنه کولی شي چې د ارزاقو دولتي شرکت او شریکانو نه یې په کرایه تر لاسه او ترې استفاده وکړي.

د سړو خونو جوړول په هیواد کې یو مثبت او لوی گام دی چې د ارزاقو دولتي شرکت په مرکز او ولایتونو کې له خپلو ثابتو جایدادونو د سړو خونو د جوړولو لپاره مؤثره گټه اخستلای شي.

دولتي اداري، داخلي او خارجي پانگوال کولای شي چې په تعین شویو شرایطو د ارزاقو دولتي شرکت سره د سړو خونو په جوړولو کې شریک او پانگونه وکړي.

# د بودجوي امکاناتو په صورت کې د کاري فرصتونه ایجاد

| د ارتزاقي موادو د پروژو د قرارداد په صورت کې اټکل شوي کاري فرصتونه | | د ځنځیري مغازو د جوړولو په صورت کې اټکل شوي کاري فرصتونه | | د روب جوړولو فابریکې جوړولو په صورت کې اټکل شوي کاري فرصتونه | | د نباتي غوړیو فابریکې جوړولو په صورت کې اټکل شوي کاري فرصتونه | | د سرو خونو جوړولو په صورت کې اټکل شوي کاري فرصتونه | | په جایدادونو کې د پانګونې په صورت کې کاري فرصتونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه | مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه | مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه | مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه | مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه | مستقیم کاري فرصتونه | غیر مستقیم کاري فرصتونه |
| ۶۰۰ | ۲۰۰۰ | ۵۰ | ۱۰۰ | ۵۰ | ۲۰۰ | ۱۰۰ | ۳۰۰ | ۶۰ | ۲۰۰ | ۵۰ | ۱۲۰۰ |

# د ارزاقو دولتي شرکت برنامو کې پانګونه او په ملي اقتصاد يې اغيزې

- په پورته ذکر شويو شپږو برنامو کې د پانګونې او د دولتي ادارو د خوراکي توکو د قراردادونو د تر لاسه کولو په صورت کې د هيواد په ملي اقتصاد مثبتې اغيزې ښندي، چې په نتيجه کې به يې په ټول هيواد کې ۹۱۰ هيوادوالو ته اټکل شوي مستقيم کاري فرصتونه او ۴۰۰۰ هيوادوالو ته اټکل شوي غير مستقيم کاري فرصتونه ايجاد شي.
- همدارنګه د ذکر شويو برنامو په تکميل سره به د ارزاقو دولتي شرکت په عوايدو کې په ميليونونو افغانۍ زياتوالی را مينځته شي چې په نتيجه کې به يې د هيواد په عمومي عوايدو کې په لويه کچه مثبت تغير شاهد اووسي.

# ستونزې، خنډونه او ممکنه حللارې يې

## ستونزې او خنډونه:

- د مالي ملاتړ کوونکو (ډونرانو) له دولت سره نه همکاري.
- د مرکزي املاکو په برخه کې د کابل ښاروالي نه همکاري.
- د املاکو د بيرته تر لاسلو په قضيو کې د ذيدخلو ادارو د همکاري نشتوالی.
- د عدلي او قضايي ارګانونو پيچلي طرزالعملونه .
- د اسلامي اساساتو له مخې د بانکي قرضونو د تر لاسه کولو پيچلي طرزالعملونه.
- د اوسني سياسي وضعيت له کبله د دولت په دولت د تفاهمنامو بندښت.
- په افغانستان کې د نړيوالو مرستو کموالی او د مهمو پروژو تړل کيدل.
- د ذکر شوي محصولاتو د مکملو معلوماتو (ډيټا) نشتوالی او د معلوماتو په را ټولولو کې ستونزې.
- د هيواد د کروندګرو لپاره د سبسايډي ورکولو په برخه کې د مالي امکاناتو نشتون.
- د عامه او خصوصي مشارکت په پروسو کې د پيچلتيا له کبله د خصوصي سکتور د دلچسپي نه موجوديت.
- په داخلي توليداتو د بهرنيو توليداتو تسلط.
- د وارداتي توليداتو د نرخونو د کنترول لپاره د معلومي پاليسي نشتوالی.
- د تدارکاتي قانون او طرزالعملونو پيچلتيا او د تدارکاتي پروسو طولاني والی.
- د خوراکي توکو د پروژو د تر لاسه کولو په برخه کې د اړوندو ادارو د همکاري کموالی.
- د سوداګريزو فعاليتونو لپاره د کافي سرمايې نشتوالی.

## ممکنه حللارې او وړانديزونه:

- د دولت په کچه د نړيوالو مالي ملاتړ کوونکو سره همغږي کول او د هغوی د همکارۍ راجلبول.
- د ښار جوړوني وزارت، کابل ښاروالي او نورو اړوند ادارو سره د املاکي ستونزو د حل په موخه همغږي تر سره کول.
- د قوانينو، مقرراتو او طرزالعملونو د اسانتيا په مورد کې له اړوندو اداراتو سره د معلوماتو شريکول.
- د اسلامي اساساتو لمخې د اسانه مالي وجوهو پيدا کول.
- له بهرنيو چارو وزارت څخه د بهرنيو قراردادونو په برخه کې د مرستې غوښتل.
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، صنعت او تجارت وزارت، د افغانستان د سوداګرۍ خونې او احصائيې ملي ادارې سره د کرنيزو محصولاتو د معلوماتو اړوند د معلوماتو را ټولولو کې همغږي کول.
- د کرنيز سکتور د پياوړتيا لپاره د سبسايډي د پروګرامونو پلي کول.
- د دولتي ادارو د خوراکي توکو د پروژو د تر لاسه کولو په برخه کې د ماليې محترم وزارت رهبرۍ او تداركاتو ملي ادارې نه د همکارۍ غوښتل.
- د ښو سوداګريزو فعاليتونو په موخه د دولتي او خصوصي سکتور د سرمايې جلبول.
- د داخلي توليداتو د ودې په منظور له اړوندو ادارو سره په ګډه د عامه پوهاوي او د سبسايډۍ د پروګرامو پلي کول
- د داخلي توليداتو د نرخونو د استحکام او د انفلاسيون د مخنيوي په موخه د دولت په سطحه د مؤثرو مالي او پولي پاليسيو ترتيب او پلي کول.

# له پاملرنې مو مننه

# پوښتنې؟